دمقالې لیکونکې : بن یمین انجل(Benjamin Dangl) .
منبع او دخپریدو نیټه : کونتر پونچ دمارچ یولسم کال (۲۰۱۳).
ژباړونکې : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

---

# چاویزخه شی شا ته پریښود

## What Chavez Left Behind

دبولیوی د ځنګل له مینځه په سرک کی یو سرویس موټرچي دهغی د راډیو څخه په لوړ اواز دانجیل موسیقی هم تر غوږ کیدل ډیر ورو ورو مزل وهل اودنوموړی سرویس موټر دهغه سوریو څخه چی دهغه په چت(بام)کی وه په دوامدار بڼی سره دباران څاڅکی راڅڅیدل اوهرڅومره چی سرویس خپل سرعت زیاتول په همغه تنا سب دهغه دبام له سوریوڅخه دباران څاڅکی هم زیاتیدل ،ترږمی لاپسی زیاتیدل اودسرویس موټر په تیریدو سره دوړو کلو اوباڼدو څخه څراغونه هم راښکاریدل اوکله چی سرویس چاپړ[ (Chapar) یو ګرمسیر منطقه چی دښارمرکزته نژدی پروت دی ] ته ورسید باران هم ودرید اوسهار شو اود لمر توده اوګرم وړانګی نمجن او لمده سرویس بیرته وچ کړ اوپه دی وخت کی مونږ سانتا کروز (sanata cruz ) ښار ته یعنی هغه ځای ته ورسید لو کوم چی هلته د «۲۰۰۳» کال د امریکی د ایبرو (ibero دا یو اصطلاح دی چی د نولسم پیړی په نیمایی کی هغه جمعی امریکایی هیوادونو ته اطلاق کیږی چی هغوی مخکی د هسپانی اود پرتګال مستعمرا ت وه .. مترجم ) د جمهوری ریا ست دانتخاباتو دپاره خلک را ټول شوی وه اوسره غونډی کول او هم په عین وخت کی له ښارڅخه په یووتلی ساحه کی هوګوچاویزدونزویلا جمهور

ریس په یو ستادیوم کی د بولیو د کوکا بزګرانو ته چی د ځان سره دپا نۍ ښخه اوبدلی زرغونی خلطی (کځوړی) لرل اودهغوسره دهغه ځای معد ن چیان هم وه او دبولیو واړه بیرقونه یی سره ښوروڵ وینا کول .چاویز په نوموړی ستادیوم کی دساعتونوساعتونو د پاره راغونډ شوی کارګران اودبولیوی معدن چیانوته لمړی د بیس بال (baseball) او سیمون بولیوار (simon Bolivar ) په اړه خبری کول او په ضمن کی دعراق دجګړی په اړه پرجورج دبلیوبوش باندی سخته نیوکی وکړ او هم دبولیو خلکو ته دهغه نه هیریدونکی لوی اومشهور اعتصاب چی دهغه په نتیجه کی یومشهورنیولیبرال جمهورریس رانسکورشو مبارکی وویل ،غونډه دشپی ترناوخته پوری روانه وه اود ونزویلا جمهور ریس ښاغلی هوګو چاویزهغوته خبری کول چی په عین وخت کی نوموړی کارګرانو دخپل دکباب کوری ته اور پوری کړل اود خپل دشپی ډودی سره وخوړل او ځای ځای د اتش بازی لوبی هم تر سره شول اوهغه په دی معنی چی هلته ډیر جم اوجوش وه او په ډیر دقت سره د چاویز خبرو ته غوږ نیولی او ټول خوشحالی کول .

دلته وه چی دجمهور ریس په شاوخوا کی سیاستوالو اود جنبش غړو سره حلقه شو یعنی له جمهور ریس ښخه راتاوو شول اود برازیل بی ځمکی جنبش جمهور ریس یی وهڅول چی دهغوسره په هغه له دوړو اوګردوخاک سره لړلی پورتو الګیر(porto Alegre ) لاریون کی چي په کال «۲۰۰۵» کی ترسره شو ګډون وکړی هغه حرکت کوم چی هغه ته د ونزویلا بولیوارن انقلاب نوم ورکړ شو ( او وروسته بیا دغه حرکت دلاتین امریکی د آزاد رهبر نوم واخیست ) چی دا پخپله دسوسیالیستی یو سیاسی پروژه وه کوم چی نوموړی جنبش وروسته بیا په همغه کال کی دجاویز دلاربښود په نامه خپل لمن ارجانتین ته وغوړول اود مارادونا (Maradona) ترڅنګ دامریکی دآزاد تجارت د منطقی دمرګ اود نسکوریدو جشن ونیول شو .

ټول دغه برخوردونه ( مخامخ کید نه ) کوم چی ډیر مهم اود تل دپاره به په پام کی ونیول شی هغه څه دی کوم چی چاویز تر سره کړی اویا داچی خلکو ته پخپل وینا ګانوکی مخکی کړی دی هغه وشو کړی چی دخپل په چاپیریال کی سیاستمداران اود نهضتونوغوِرځنګونو کړی اوحلقی را تاوکړی اویا داچی هغه وشو کړی چی د بولیوا دکوکا بزګرانوته خپل د ضد امپریالیستی احسا س ورکړی اویا داچی هغه وشوکړلی چی دلاتنی امریکی د خپل وخت نوروکین اړخو جمهورو ریسانوته خپل انساندوستانه افکار پلی کړی هغه یعنی چاویزدخپل ځوارلس کلن د قدرت په لرلوسره دلاتینی امریکی ډیرو خلکو ته د ضد امپریالیستی احسا س ت ورپه برخه کړ چی تاریخ به یی هیڅکله هیرنکړی.
چاویز په لاتین امریکا کي دکيڼ اړخو غورځنګونو دپاره د یو سمبول په بڼه نورو معاصرو جمهورو ریسا نو دپاره دا سی یو مناسب فضا را مینځ ته کړ لکه هغسی چی په اکوادور کی رافایل کوریا دامریکی دمتحده ایالاتو د ایربس له شرکت څخه ووتل اویا داچي په بولیواکی ایبو مورالس د طبعی ګا ز فابریکه یی ملی اعلان کړ ، مترقی قانون چاویز ته دامرسته وکړ چي هغه نوموړی قانون بیا له سره ولیکل کوم چی دنورو دولتونو دپاره په تیر لسیز کی په یو مود ل واغوښت ، چاویز پخپل نه ستړی کیدونکی هلی ځلی سره وشو کړی چي په منطقه کی یوپه حال د ودی جنوب ترجنوب پوری اقتصادی –سیاسیی ایتلاف را مینځ ته کړی ، همدارنګه چاویز دامریکایی نظامی قوتونو دکنترول دپاره یولاربشود هم رامینځ ته کړ چی دهغه په نظر کی نیولو سره دامریکی نظامی قوتونه ترځارنی لاندی ونیول شو اوپه منطقه کی چپ سیاسی او اقتصادی سیا ست مدران او نور جمهورریسان یی و هڅول چي په ټول لاتین امریکا کی دغه سیاست پلی کړی .
سربیره پردی چي چاویز په منطقه کی پوره نفوذ لرل دهغه ځنی

ډیر نور دیادونی وړ میراث نه یوائې دجمهوری ریا ست په مانی کی بلکه دونزویلا په کوڅو ، په کارخانو ، اود ونزویلا په ګاونډیو کی راپاتی دی لکه چی په بولیو کی دهغه هیواد انقلابی فعالان او کارګران وشو کړی چی خپل هیواد له ښکته څخه تر پورته پوری پخپله جوړ کړی .

په ونزویلا کی دکارخانو دکارګرانو دهم آهنګی شورا نه نیولی بیا دمستقیم دموکراسی - سوسیالیزم اود کارګرانو دکنترول ښه اوبریالی تجارب په نړی کی بی ساری دی یا په بل عبارت په ونزویلا کی کارګران اودهغه هیواد دشورګانی غړی ددموکراسی ـ سوسیالیزم اود کارګرانو په واسطه سره د چارو د کنترولولو ښه اود بریالی تجاربو څښتن دی . همدارنګه چاویز ددغه پروژو ، ابتکاراتو اودانکشافاتو یو مهم اوکلیدی څیره منل شوی شخصیت دي، کوم چی هغه وشو کړی چی دونزویلا د خلکو ژوند سمبال کړی یا دخپل د خلکو ژونډ هوسا کړی اکثر دغه پلی شوی پروګرامونه نه یوائې له ښکته څخه تر پورته پوری سمبال شوی بلکه نورچاری لکه بیروکراسی انتخاباتی مسایل هم یوبل پسی ښه شوی کوم چی دبولیو انقلابی خلکو هم دخپل هیواد دآبادی اوسمسورتیا دپاره ورته قدمونه اوچت کړی چی دغه ټول لاس ته راوړنه د چاویز له نه ستړی کیدونکی هلو ځلو څخه شمیرل کیږی .

له هغه وخته چی چاویز په ونزویلا یعنی په کال (۱۹۹۹) کی په واک رسیدلی هغه دخپل زمامداری په موده کی دیو ملی رهبر په ښه دهیواد نفت یی چی یو ملی ثروت دی ددولت ترکنترول لاندی راوستی اوبیا دهغه په څنګ کی ځنی نور ښه پروګرامونه مخ ته وړلی لکه بی له پیسو مفت تعلیم اوتربیه دغاښونو دخدماتو کلینیکونه ، روغتیایی کلینیکونه ، دمسکن او دځمکی اصلاحات او ریفورمونه ، دکارګرانو دپاره په زرګونو دکار ځایونه رامینځ ته کړی او هم خپل ډیری خلک

یی کوم چی دفقر دلیک ښځه ښکته ژوند درلود له هغه حالت ښځه ایستلی کوم چی اوس دونزویلااکثروخلکو دهوسا اودآرام ژوند ځینتنان دی چی دا ټول د چاویز له دغه ښو برنا مو ښځه شمیرل کیږی . اود چاویزدغه ټول پورتنی ذکر شوی برنامی اولاربود خپل تاثیراو اغیزه دمنطقی په نورو هیوادونوکی واچول یعنی چی دمنطقی نور هیوادونه هم ورته اقدامات اوکړنه دمستقیم دموکراسی په رعایت سره تر سره کړل .

د کاراکاس د آیل 23 د اینیرو( EL 23 De Enero ) له محلی ښځه یو داستان کی داسی راغلی دی او هغه داچی دکاراکاس په دغه محله کی بی وزلی اوکارګران ژوندکول او ددی ځای خلکو اکثرا سیاسی بیداری او پوهاوی لرل چی اکثرأ دظلم او استبداد په مقابل کی شورش اوبغاوت کول او بیا دهمدغه منطقی د پولیسو حوزه کی اکثر شورشی او مترقی خلک شکنجه کیدل اویا دهغو بندی خانه وه دغه د پولیسو مرکز دځو لسیزو دپاره د نورومحافظه کاروجمهوریسانو د زمامداری په دوران کی په ورته ډول سره دخلکو دربړولو اوشکنجه کولو مرکز وه اما کله چی هوګو چاویز په انتخاباتو کی جمهور ریس شو نو دنومړی منطقی دخلکو په همکاری سره دغه د پولیسو مرکز کی د راډیو په ستیشن باندی واړول شو ، اوپه ورته بني سره په بولیو کی د سیمون بولوبر محله چی هلته هم دپولیسو په مرکز کی بیدار او پوه خلک شکنجه کیدل درادیو په ستیشن واړول شول .

***********

په ډیر درناوی